# په پيغمبرانو ايمان

## معنى،
## دلايل
## او غوښتنې يې

حكمتيار

# پر پیغمبرانو ایمان

# معنی،

# دلائل

# او غوښتني ئې

حکمتیار

د کتاب پیژندنه:
نوم: پر پیغمبرانو ایمان معنی، دلائل او غوښتني ئې
لیکوال: حکمتیار ( امیر حزب اسلامی افغانستان )
دوهم چاپ: ۱۳۹۸
تعداد: ۱۰۰۰ جلد
قیمت: ( ) افغانۍ

# فهرست


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| د ناشر مقدمه | أ |
| پر پیغمبرانو ایمان | ۱ |
| پر پیغمبرانو د ایمان معنی | ۱ |
| په پیغمبرانو د ایمان غوښتني | ۲۷ |
| توقیر او تعظیم: | ۲۷ |
| ژوره مینه: | ۲۹ |
| کامل اطاعت: | ۳۱ |
| د استهداء لپاره پیغمبر ته رجوع: | ۳۳ |
| حکمیت: | ۳۵ |
| هدف او تګلاره د پیغمبر په متابعت کي ټاکل: | ۳۶ |

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ناشر مقدمه

د الله تعالی د پېرزوینو ممنون یو چي موږ ته ئي د یوه بل ښکلي او په زړه پوري کتاب د خپرولو توفیق راکړ، دا کتاب د هغو درسونو د لړۍ یوه برخه ده چي ورور حکمتیار د اردوی سپاهیان رضاکار اسلام په تربیتي غونډو کي رضاکارانو ته درلودل او په ۱۳٦۹هـ ش کال کي د کتاب په بڼه کي ترتیب او چاپ شوی، بیا د ځینو عربو ورونو په غوښتنه، په عربي ترجمه او په کافي شمېر کي خپور شوی، دا کتاب په پیغمبرانو د ایمان معنی، غوښتني او هغه دلایل وړاندي کوي چي انسان ولي پیغمبرانو ته اړ دئ، د دې درسونو دا لړۍ د لاندي پنځو کتابونو په بڼه کي خپره شوې:

١. په الله تعالی ایمان، معنی، دلایل او غوښتني ئي.

٢. په آخرت ایمان، معنی، دلایل او غوښتني ئي.

٣. په پیغمبرانو ایمان، معنی، دلایل او غوښتني ئي.

٤. په کتابونو ایمان، معنی، دلایل او غوښتني ئي.

٥. په ملائکو او قضا او قدر ایمان، معنی، دلایل او غوښتني ئي.

د دغو اساسي مسایلو اهمیت ته په پام سره مو دا غوره وګڼله چي یو ځل بیا ئي خپل خدای پال او په دین مین ولس ته وړاندي کړو، هغو باایمانو ځوانانو ته چي د غربي استعمار د فکري یرغل په ضد ئي د مبارزې سنګر تود ساتلی او غواړي د ایمان په حقیقت پوه شي، نورو ته ئي وښیي، خپل فردي او اجتماعي ژوند د ایمان په رڼا کي او د خپل رب د لارښوونو

مطابق تنظیم کړي، او په آزاد او خپلواک افغانستان کي د اسلام پرتمین بیرغ رپانده وګوري، د دې کتابونو د ژوري او دقیقي مطالعي بلنه ورکوو، دعاء کوو چي الله تعالی موږ په دنیا او آخرت کي د هغو توریالیو مبارزینو په صف کي محسوب کړي چي له الله تعالی پرته بل چا ته سر نه ټیټوي، له بل چا طمعه او وېره نه لري، د خپل رب رضا لټوي او دې سپېڅلي هدف ته د رسېدو په لار کي هري قربانۍ ته چمتو دي.

اللهم اهدنا الصراط المستقیم

بسم الله الرحمن الرحيم

# پر پیغمبرانو ایمان

دا موضوع به تر دې دريو عنوانونو لاندي څېړو:

- پر پیغمبرانو د ایمان معنی.
- د پیغمبر بعثت او لېږني ته د انسان ضرورت.
- او په پیغمبرانو د ایمان غوښتني.

## پر پیغمبرانو د ایمان معنی

پ پیغمبرانو باندي د ایمان معنی دا ده چي الله جل شأنه د زماني په بېلابېلو پړاوونو کي د انسانانو د لارښووني او هدایت لپاره، د دوی له منځ ترټولو غوره او صالح شخصیتونه غوره کړي، هغوی ته ئې وحي کړې او له خپل پېغام سره ئې خلکو ته لېږلي، چي هغوی د الله تعالی لوري ته دعوت او هدایت کړي، هغوی ته خپل ځان، جهان او خپل رب وروپېژني او د غوره او سوکاله ژوندون لاري او طریقې وروښیي.

الله جل شأنه پیغمبران د خلکو له منځه انتخاب کړي او دوی تر ټولو غوره او صالح انسانان او د لوړ معنوي او اخلاقي شخصیت خاوندان دي. د خلکو له منځه د دوی د انتخاب معنی دا ده چي پیغمبران د آدم علیه السلام له اولادې څخه دي، په دې موضوع د دې لپاره ترکیز کوم چي متأسفانه ځینو د جهالت او ناپوهۍ په وجه او ځینو په محبت او درناوي

کي د غلو او افراط په وجه دا هڅه کړې چي ثابته کړي پیغمبران د نورو انسانانو په څېر نه دي، ځینو خپل پیغمبران هغه مقام ته رسولي او داسي څه ئې هغوی ته منسوب کړي چي یوازي له الله تعالی سره ښايي، نسیحیانو د عیسی علیه السلام په اړه وویل چي هغه له نوره پیدا شوی، هغه د خدای زوی دئ، له خدایه راښکل شوی، خدای د مسیح په بڼه کي زمکي ته راغلی، یهودانو د عزیر علیه السلام په هکله وویل چي هغه د خدای زوی دئ، په مسلمانانو کي هم داسي جاهل کسان راپیدا شول چي د پیغمبر علیه السلام په اړه ئې د مسیحیانو او یهودانو په څېر له غلو او مبالغې ډکي خبري وکړې، چا وویل هغه له نوره پیدا شوی، چا وویل هغه په غیب پوهېدو، دا په داسي حال کي چي قرآن په صریح او څرګندو الفاظو او په مکرره توګه وایي چي پیغمبران علیهم السلام د آدم علیه السلام د اولاد له منځه د انسانانو د لارښوونې او هدایت لپاره غوره شوي، توپیر ئې له نورو انسانانو یوازي په دې کي دئ چي د الله تعالی له لوري وحي ورته شوې. قرآن موږ ته وایي چي انسان له خاوري پیدا شوی، خو د همدغه له خاوري پیدا شوي انسان په وړاندي هغه ملائکي په سجدې کولو مکلفي شوې چي له نوره پیدا شوې، دا د کوم شي کمال نه دئ چي له نوره پیدا شوی وي، او پر هغه څه تفوق او امتیاز ولري چي الله تعالی له بل څه پیدا کړی، د خاوري او د نور هم بنسټ یو دئ او هم ئې خالق یو، د هر مخلوق امتیاز او پر بل تفوق او لوړوالی په هغه کار کي دئ چي ترسره کوي ئې نه په ذات او د پیدایښت په ماده کي، قرآن دې مطلب ته په څرګنده توګه اشاره کوي چي که د زمکي په سر ملائکي په ډاډ او اطمئنان سره اوسېدلی او دوی ته پیغمبران لېږل کېدی نو د دوی له ډلي به وو، فرشتو ته به فرشتې د پیغمبرانو په توګه لېږل کېدې، خو د زمکي په سر انسانان اوسېږي، نو ځکه الله تعالی دوی ته د دوی له منځه یو انسان د پیغمبر په توګه لېږي، او قرآن وایي: که الله تعالی غوښتی چي کومه فرشته انسانانو ته د خپل استازي او پیغمبر په توګه ولېږي نو هغه به ئې د یوه

انسان په بڼي کي لېږله، دا ځکه چي انسان يوازي د انسان په ژبه پوهېدی شي او يوازي انسان د ده لپاره بېلګه او قدوه کېدی شي.

د قرآن له ويناوو معلومېږي چې له ټولو پيغمبرانو عليهم السلام سره همدا معامله شوې، چا چې تر ټولو زيات د دوی مخالفت ته ملا تړلې، هغه دين پلورونکي ټګمار مذهبي مشران وو چي تر ټولو مخکي ئي بايد په هغوی ايمان راوړی وی، خو دوی له دين دکان جوړ کړی وو او له مذهب دام!! پيغمبرانو حقيقي دين ته بللي، له الله تعالی وېرې ته، حق او عدالت ته، له حرامو ځان ساتلو ته، صداقت او رښتيا ته او دا هغه څه وو چې دوی ئې منلو ته تيار نه وو، دوی د هر نوي پيغمبر مقابله په دې سره کوله چي خلکو ته به ئې ويل: په ده کي هغه ځانګړتياوي نشته چي په مخکنيو پيغمبرانو کي وې، عوامو له دوی د مخکنيو پيغمبرانو په اړه هغه څه اورېدلي وو او هغه څه ئې هغوی ته منسوب کړي او په هغو الفاظو ئې ستايلي وو چې يوازي له الله تعالی سره ښايي، دوی پيغمبران د خدايۍ او الوهيت مقام ته رسولي، عوام د دوی د غلطو تبليغاتو تر اغېز لاندي له پيغمبرانو د هغه څه انتظار کاوو چې په وس کي ئې نه وو، قرآن دا حالت ځومره ښکلی او دقيق انځوروي، هلته چي فرمايي:

وَقَالُواْ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفْجُرَ لَنَا مِنَ ٱلْأَرْضِ يَنۢبُوعًا * أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ ٱلْأَنْهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفْجِيرًا * أَوْ تُسْقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا أَوْ تَأْتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا * أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَٰبًا نَّقْرَؤُهُۥ ۗ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا * وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤْمِنُوٓاْ إِذْ جَآءَهُمُ ٱلْهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرًا رَّسُولًا * الاسراء: ٩٠-٩٤

او وئي ويل: تر هغه به هيڅکله دربانديي باور ونه کړو چي له زمکي يوه چينه راته جاري نه کړې، يا د کجورو او انګورو داسي باغ دي وي چي هري خوا ته ويالي په کي وبهوې او يا لکه څنګه چي ګمان کوې د آسمان يوه

ټوټه پر موږ راپرې باسې، یا خدای او فرشتې مخامخ راولې، یا د سرو سپینو زرو کور ولرې، یا آسمان ته لوړ ولاړ شې او پورته تګ دې هم تر هغه نه منو چې داسې کتاب درسره راوړې چې موږ ئې ولولو، ورته ووایه: پاکې زما رب لره ده ، آیا زه له یوه داسې انسان پرته بل څه یم چې د پیغمبر په توګه لېږل شوی؟ او خلکو ته د هدایت له راتلو وروسته یوازې دې خبرې دوی له ایمان راوړو منع کړل چې ویل ئې: آیا خدای یو انسان د پیغمبر په توګه رالېږلی؟!!

ګورئ چې (خلك) دغې خبرې له ایمان راوړلو منع کړي چې پیغمبر ئې د نورو انسانانو په څېر یو انسان موندلی، داسې چې حیرتناك او خارق العاده کارونه نشي کولی، د ده په خوا کې نه څوك خدای په ښکاره ګورې او نه د فرشتو لښکرې، آسمان ته نشي ختلی، له زمکې چینې نشي راخوټولی، سره او سپین زر ئې په لاس کې نشته، د باغونو او بنګلو خاوند نه دئ!!

د یهودانو مذهبي مشرانو د خپلو پیغمبرانو په اړه خلکو ته همدا ویلي وو چې دوی دغه ټول کارونه کولی شو، نو ځکه ئې د عیسی علیه السلام په څېر په هغه پیغمبر هم ایمان رانه ووړ چې معجزې ئې تر ټولو پیغمبرانو زیاتې وې!!

پیغمبر یوازې د الله تعالی د پیغام حامل نه دئ، دنده ئې په دې کې نه راخلاصه کېږي چې الهي پیغام په امانت او صداقت سره او په بشپړه توګه خلکو ته ورسوي، بلکې هغه د انسانانو لپاره قدوه، اسوه او بېلګه دئ، هغه دا الهي پیغام هم په خپلې ژبې سره خلکو ته بیانوي او هم ئې په خپل عملي ژوند کې دوی ته انځوروي، موږ د پیغمبر په شخصیت او عملي ژوند کې هغه څه ګورو چې الله تعالی ئې د هر انسان په ژوند کې لیدل غواړي، که څوك غواړي په دې پوه شي چې خپل رب ئې څه ترې غوښتي، د ده لپاره څنګه ژوند، څنګه وینا، کومه عقیده، کوم عمل او څنګه اخلاق غوره ګڼي، نو ځواب ئې دا دئ چې د پیغمبر په څېر ژوند، وینا، عقیده،

عمل او اخلاق. پیغمبر په حقیقت کي د الهي پیغام عملي تجسم دئ، الله تعالی چي انسانانو ته د کامل او غوره انسان د جوړېدو لپاره کومي لارښووني رالېږلي هغه د پیغمبر په شخصیت کي څرګندي شوې، کامل انسان هغه دئ چي د پیغمبر په څېر وي، الله تعالی هغه بنده او د ده قول او عمل خوښوي چي قول او عمل ئې د پیغمبر په څېر وي، پیغمبر د انساني ټولني د معنوي او اخلاقي کمال او ارتقاء لپاره د پای او انتهاء هغه نقطه ده چي تر ټولو د لوړ شخصیت خاوندان، باهمته او اولوالعزمه انسانان وررسېدی شي او هیڅ انسان ترې لوړ نشي تېرېدی، که وغواړو دا مطلب د یوه ګراف په ذریعه تشریح کړو؛ نو د ګراف په بې انتهاء پای کي الله جل شانه دئ، مسلمان په دې ګمارل شوی چي په همدې لوري به درومي، الله تعالی ته به د نږدې کېدو هڅه کوي، په الهي اخلاقو به ځان سنګاروي، په دې لارښووني به عمل کوي چي (تخلقوا بخلق الله: په الهي اخلاقو ځان سمبال کړئ، الهي اخلاق ځان ته غوره کړئ)، الهي اخلاق په حقیقت کي د بې انتهاء معنوي کمال او ارتقاء هغه لوړه څوکه ده چي هغې ته رسېدل د انسان له وسه وتلې ده، هغې څوکي ته نږدې کېدا ممکنه ده خو رسېدا محال. پیغمبران علیهم السلام دې لوړي څوکي ته د رسېدلو په لار کي هغه ځای ته رسېږي چي د انسان لپاره وروستی او آخري معراج دئ، په یوه بې انتهاء او پای نه منونکي مسیر کي وروستی تم ځای او د توقف آخري پړاو، هیڅ انسان ته تر دې نقطې آخوا تېرېدا ممکنه نه ده. د پیغمبرانو علیهم السلام شخصیت د انساني لوړو اخلاقو، د ده اوچتو معنوي ځانګړتیاوو او د غوره صفاتو او خصوصیاتو لپاره وروستی معراج او د ګراف آخري لوړه څوکه ده. هغوی په هر څه کي د نورو لپاره بېلګه، اسوه او قدوه دي، الله جل شأنه له ګناه، خطأ او اشتباهاتو خوندي او مصئون ساتلي، له فکري، اخلاقي او عملي پلوه له ګناه او خطأ معصوم دي، د ګناه عصمت په دې معنی چي که کله د انساني طبیعت په مقتضاء له دوی کومه وړه اشتباه هم وشي، الله جل شأنه یي

ډېر ژر متوجه کوي، د اشتباه مخنیوی او جبران کوي او تکرار ته ئي نه پرېږدي. په دې معنی هغوی معصوم دي او الله جل شانه له ګناه مصئون ساتلي، الله تعالی د خپل رسالت او پیغام لپاره داسي شخصیتونه غوره کوي چي دا دنده په بشپړ امانت او صداقت سره خلکو ته ورسوي، د یوه پیغمبر په ځای بل پیغمبر هغه مهال لېږلی چي د مخکني پیغمبر د دعوت ټولي نښي، اغېز او اثر زایل او له منځه تللی، هر پیغمبر چي راغلی، خلك په دې مکلف شوي چي په همدې نوي پیغمبر به ایمان راوړي، مخکنی پیغمبر او امت ئي هم په دې مکلف شوي چي په هغه ایمان راوړي او ملګرتیا ئي وکړي، لکه چي قرآن فرمایي:

وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيْتُكُم مِّن كِتَٰبٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥ ۚ قَالَ ءَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِى ۖ قَالُوٓا۟ أَقْرَرْنَا ۚ قَالَ فَٱشْهَدُوا۟ وَأَنَا۠ مَعَكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ * آل عمران:۸۱

او کله چي الله مو د پیغمبرانو ژمنه واخیسته چي دا دئ تاسو ته مي کتاب او حکمت درکړ، نو که بیا تاسو ته داسي کوم پیغمبر راغی چي تاسو ته د درکړی شوي کتاب تصدیقوونکی وي نو حتماً به ایمان پرې راوړئ او مرسته به ئي کوئ، وئي فرمایل: آیا په دې اقرار کوئ او پر دې باندي زما دا پېټی (پر اوږو) اخلئ؟ وئي ویل: اقرار کوو، وئي فرمایل: نو شاهد اوسئ چي زه هم له شاهدانو څخه یم.

یعني له پیغمبرانو الله تعالی دا ژمنه اخیستي ده چي یو به د بل ملاتړ او مرسته کوي، په دې ژمني کي د دوی امتیان هم شامل دي، دوی به هم د خپلو پیغمبرانو پر پله ګام ږدي او د هر مؤمن او د کتاب تصدیقوونکي ملګرتیا او ملاتړ به کوي. څوك چي دا کار ونکړي په حقیقت کي ئي له الله سره کړې ژمنه ماته کړې او د پیغمبرانو له لاري منحرف شوی، دا ځکه چي له انبیاوو دا عهد او پیمان اخیستل شوی چي که له دوی وروسته داسي بل پیغمبر راځي چي د دوی د دعوت مصدق وي، نو

هرومرو به پر هغه ایمان راوړي او د هغه تأیید او ملګرتیا به کوي او د دوی امتونه او پلویان هم مکلف شوي چي په همغه نوي دعوت او نوي پیغمبر به ایمان راوړي.

پر هر پیغمبر له حالاتو سره سم او د شرائطو له غوښتنو سره سم کتاب، صحیفه او احکام نازل شوي، چا ته کتاب ورکړی شوی، چاته صحیفي او څوك په دې مکلف شوی چي د خپل دور او یا له ده مخکي پیغمبر دعوت وچلوي، هغه تجدید کړي او د هغه طرف ته بلنه ورکړي.

د پیغمبرانو شمېر ډېر دئ، د آدم علیه السلام له پیدایښته سره سم د دوی د لېږلو سلسله پیل شوې او دا لړۍ پر محمد علیه السلام پای ته رسېدلې، له ده وروسته بل پیغمبر نه مبعوث کېږی، تر قیامته پوري ټول خلك پدې مکلف دي چي د محمد صلی الله علیه وسلم په رسالت ایمان راوړي او هغه دین ومني چي ده راوړی، دا ځکه چي الله تعالی دی په داسي وخت کي په پیغمبرۍ مبعوث کړ چي پیغام او رسالت ئې تر قیامته له هر راز تحریف خوندي پاته کېدی شي، د ده په لاس د لېږل شوي قرآن د خوندي او محفوظ پاته کېدو انتظام شوی، دا دئ ګورئ چي د قرآن له راتلو څوارلس پېړۍ تېري شوې خو په یوه حرف او حتی زور او زېر کي ئې تغییر رانه غی، دا کار تر دې د مخه ممکن نه وو، د نورو پیغمبرانو علیهم السلام په لاس لېږل شوي کتابونه له منځه ولاړل، له هر یوه یوه وړه برخه حتی د څو جملو په اندازه هم نه ده پاتې شوې، د همدې لپاره تر محمد علیه السلام وروسته د بل پیغمبر د لېږلو ضرورت منتفي شوی، د قرآن په شته والي کي نه د بل کتاب د لېږلو ضرورت شته او نه د بل پیغمبر.

د پیغمبرانو علیهم السلام یو خصوصیت دا دئ چي هر یو ئې د مخکني پیغمبر او د هغه د دعوت تصدیق کوي او د راتلونکي پیغمبر زېری او بشارت ورکوي، دا د تېر قیادت تأیید او د راتلونکي مشرتابه زېری ورکول،

هغه څه دي چې له نورو زعامتونو د دوی توپیر په ګوته کوي، هغه څه چې د نړۍ د سیاسي زعامتونو له کړنلارې سره ژور توپیر لري، د نورو سیاسي زعامتونو خصوصیت دا وي چې تر ځان مخکې قیادتونه محکوموي، د دوی په ضد تبلیغات کوي، د ناخوالو عامل ئې ګڼي، د روان بد حالت او ستونزو مسئولیت د دوی په غاړه اچوي، خلکو ته وايي: موږ ته یو ویجاړ نظام، ناکامه اداره، اقتصادي ستونزې، امنیتي مشکلات او اجتماعي کړاوونه په میراث پاته دي، غواړي په دې کار سره له یوې خوا د خلکو پام له مخکني قیادت ځان ته راواړوي او له بله پلوه خپله ناکامي توجیه کړي، د دوی بل بد خصلت دا دئ چې په خپلې خوا کې د نوی قیادت راولاړېدو او وده نه خوښوي، هر هغه څوك ټکوي چې د دوی اقتدار او زعامت ګواښي، او د دې امکان او استعداد په کې ګوري چې د دوی ځای به ونیسي او په راتلونکې کې به د ولس قیادت ترلاسه کړي، نه پرېږدي د دوی په څنګ کې بل شخصیت وده وکړي، لکه په غرب کې چې همدې ذهنیت د داسې مشهور متل حیثیت غوره کړی چې وايي: لوی قیادتونه ستري وني ته ورته وي چې ترې لاندې بل بوټی شین کېدی نشي، په دې متل کې د غربي سیاسي او اجتماعي قیادتونه او د دوی دا خصلت په ډېره دقیقه توګه انځور شوی، هلته لوی لوی شخصیتونه داسې وي لکه ګڼې او ستري وني چې تر سیوري لاندې ئې بل بوټی او ونه نشي شنه کېدی، همدا د هغوی خصوصیت دئ، که خروشف راځي باید ستالین محکوم کړي او حتی مجسمه ئې باید محاکمه کړي، که ګورباچوف راځي باید بریژنیف او تر ځان مخکې ټول نور زعامتونه په دې متهم کړي چې شوروي اتحاد ئې په یوې ناکامي جګړې کې ښکېل کړ او دا ټولې ستونزې او کړاوونه ئې ده ته په میراث پرېښودل، باید ماوتسه تونګ د هغه چا په لاس محاکمه شي چې د ده د اقتدار په وخت کې ئې د لارښود په سترګه ورته کتل او د ده افکارو ته د خپل اخلاص ښرګندولو لپاره به ئې د ده کتابونه په جیب کې ګرځول، همداسې چې هر چا اقتدار له لاسه ورکړی، که څه هم د اقتدار په

شپو ورځو کي خلکو د ګمانځني ترپولي د دوی توصیف او ستاینه کړې، د مريي په شان ئي د دوی اطاعت کړی، خو چي د اقتدار له کرسۍ کوز شوی نو خپلو نږدې ملګرو او پلویانو په کلکه محکوم کړی، بیا ئي مجسمې هم محاکمه شوې او رانسکورې شوې، هو! دا د یوې غیږدیني ټولني د زعامت او مشرتابه ځانګړتیا ده چي د اقتدار په وخت کي هیڅوا ته د دې موقع او مجال نه ورکوي چي وده وکړي او بل شخصیت د دوی تر څنګ تبارز وکړي، حال دا چي د پیغمبرانو په اړه قرآن فرمایي: هغوی د تېرو پیغمبرانو د دعوت تصدیق کوي او د راتلونکو پیغمبرانو د راتلو زېری ورکوي، ځان او خپل پلویان په دې مکلف ګڼې چي په ر اتلونکي پیغمبر به ایمان راوړي او د هغوی ملګرتیا او تأیید به کوي، لکه چي قرآن فرمایي:

وَإِذۡ قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُم مُّصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَمُبَشِّرَۢا بِرَسُولٖ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِي ٱسۡمُهُۥٓ أَحۡمَدُۖ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٞ مُّبِينٞ * الصف: ٦

او هغه وخت راپه یاد کړئ چي عیسی د مریمې زوی بني اسرائیلو ته وویل: یقیناً چي زه د الله له لوري تاسو ته استازی او پیغمبر یم، د تورات تصدیقوونکی او د هغه نبي (د راتلو) زېری ورکوونکی چي له ما وروسته به راځي، نوم ئي احمد دئ، خو کله چي له ځرګندو نښو سره ورته راغی وئي ویل: دا خو ځرګند سحر دئ.

ګورئ چي عیسی علیه السلام مخکنی پیغمبر، د هغه دعوت او د ده په لاس راغلی کتاب تصدیقوي او د راتلونکي پیغمبر په اړه خلکو ته زېری ورکوي، ذهناً ئي د ده ملګرتیا ته تیاروي او راتلو ته ئي لار آواروي.

قرآن عظیم الشأن موږ ته لارښوونه کوي چي پیغمبران علیهم السلام د دې لپاره رالېږل شوي چي انسان د فلاح او سعادت لاري په موندلو کي د دوی لارښوونو ته اړ او محتاج دی، دا ځکه چي تاسو د دې عالم هر څه داسي ګورئ چي په فطري او طبیعي توګه وحي ورته شوې، د ژوند تګلاره

ورښودل شوې، د کوم مقصد لپاره چي پيدا شوی او کوم کار چي ورسپارل شوی، د سر ته رسولو فهم، شعور او اراده ئي ورکړی شوې، پوهېږي چي څه وکړي او څه ونه کړي، څه وخوري او څه ونه خوري، خو انسان چي د کوم ستر مقصد لپاره پيدا شوی، د هغه د سرته رسولو لپاره پر فطري لارښووني برسېره مزيد هدايت او لارښووني ته ضرورت لري، که تاسو انسان له حيواناتو سره مقايسه کړئ نو انسان به تر هر څه زيات لارښووني، پالني او ساتني ته اړ او محتاج ومومئ، اکثر حيوانات به داسي وګورئ چي له پيدايښت سره سم، او دنيا ته له راتلو لنډه موده وروسته له مور او پلار مستغني او بې نيازه شي، لنډه موده وروسته خوراك کولی شي، که په وچه کي پيدا شي نو په خپلو پښو تلی شي، که په بحر کي پيدا شي نو لامبو وهلی شي، د مور او پلار له وينا پرته همغه څه خوري چي ګټه وررسوي او د هغه څه له خوراکه ډډه کوي چي تاوان ورته لري، خو د انسان ماشوم تر اوږدې مودې شديداً د مور او پلار پالني ته اړ او محتاج وي، د اور او د اوبو فرق نشي کولی.

څومره چي انسان د پلار او مور لارښووني، پالني او روزني ته اړ دئ همدومره د پيغمبرانو لارښووني ته اړ دئ، هغه د پيغمبر له لارښووني پرته نه خپل ځان پېژندلی شي، نه دا پراخ عالم او کائنات، او نه د الله تعالی په لوري خپله لار، نه په دقيقه توګه د حق او د باطل ترمنځ تفکيك کولی شي، نه د عدل او ظلم ترمنځ توپير، او نه مفيد او مضر او حلال او حرام سره بېلولی شي، دا سمه ده چي انسان ته عقل او شعور ورکړی شوی چي د دې په مرسته کولی شي څه ناڅه ښه او بد سره بېل کړي، او له دې اړخه ترنورو ژوو مخکي دئ، خو يوازي د عقل او شعور په مرسته، ځان او ټول عالم پېژندل او بيا د يوه جامع او کلي معرفت په رڼا کي خپله تګلاره ټاکل ورته ممکن نه دي، انسان د عقل او شعور په څنګ کي دې ته ضرورت لري چي د لارښووني او هدايت لپاره ئي پيغمبران ولېږل شي، د همدې

لپاره الله تعالی د زماني په هر پړاو کي د خلکو د لارښووني او هدایت لپاره پیغمبران لېږلي.

قرآن عظیم الشأن په دې ارتباط فرمایي:

كَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِيكُمۡ رَسُولاً مِّنكُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِنَا وَيُزَكِّيكُمۡ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ * البقره: ۱۵۱

همداسي لکه چي په تاسو کي مو ستاسو له منځه داسي پیغمبر درولېږو چي زما آیتونه درباندي لولي، ستاسو روزنه کوي، علم او حکمت درښیي او هغه څه درښیي چي نه پرې پوهېدئ.

یعني پیغمبران د دې لپاره لېږل شوي چي د الله جل شأنه آیتونه خلکو ته واوروي، له شرك، فساد او بدکارۍ ئې وژغوري، د دوی ټولنه له مفاسدو او مظالمو تزکیه او پاکه کړي، د هغوی عقاید تزکیه کړي، هغوی ته کتاب وروښیي، د دې کتاب د پلي کولو او تطبیق طریقه ورزده کړي، دلته له کتاب مراد هغه احکام دي چي الله جل شانه په خپل کتاب کي نازل کړي او له حکمت مراد د دې احکامو د تطبیق لاري، چاري او طریقي دي. یعني پیغمبران علیهم السلام هم خلکو ته الهي احکام او د دین او دنیا اړوند ضوابط او قواعد ښيي، هم د دوی د ژوند اهداف او مقاصد ورښيي او هم دغو اهدافو ته د رسېدلو طریقي ورښيي، هم خلکو ته کتاب ښيي او هم د دې کتاب د تطبیق او عملي کولو چاري ورښيي او ټول هغه څه ورښيي چي په خپله پرې پوهېدی نشول.

ګورئ چي په دې مبارك آیت کي موږ ته لارښوونه شوې چي پیغمبران علیهم السلام موږ ته هغه څه هم راښيي چي پرې پوهیدی نشو، وَيُعَلِّمُكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ: او هغه څه درزده کړي چي نه پرې پوهېدئ، تاسو په هغه د پوهېدو توان نه درلود، درته ممکنه نه وه چي پرې وپوهېږئ.

لَقَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ بَعَثَ فِيهِمۡ رَسُولاً مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ * آل عمران : ١٦٤

يقيناً چي الله پر مؤمنانو احسان وکړ چي په دوی کي ئې د دوی له منځه داسي پېغمبر مبعوث کړ چي د ده آيتونه پرې لولي، د دوی روزنه کوي او کتاب او حکمت ورښيي، په داسي حال کي چي تر دې د مخه په ښکاره تېروتني کي وو.

په دې مبارك آيت کي چي د احد د جګړي په ارتباط نازل شوی مسلمانانو ته ويل شوي: پېغمبر خو هغه څوك دئ چي تاسو د ده په لاس له ضلالت او بې لاريتوبه وژغورل شوئ، د ده بعثت خو پر تاسو د الله تعالی يوه ستره پېرزوينه وه، ده درته حلال او حرام وښودل، ستاسو روزنه ئې وکړه، کتاب او حکمت ئې دروښود، په غنائمو کي غلول خو د ده لخوا خيانت وګڼل شو، تر دې د مخه خو غنيمت يا د زورورو قومندانانو حق ګڼل کېدو او يا د هغه چا چي په لاس کي ئې پرېوتی وو، کمزوري تل ترې محروم وو، ده درته وويل چي غنايم به د جنګ په پای کي راغونډېږي او په ټولو مجاهدينو به مساويانه وېشل کېږي، ولي مو د پېغمبر عليه السلام په اړه بې ځايه تشويشونه کول؟!

په دې اړه د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په دعا کي کي داسي راغلي:

رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولاً مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُزَكِّيهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ * البقره: ١٢٩

اې زمونږ ربه! په دوی کي په خپله له دوی داسي پېغمبر مبعوث کړه چي ستا آيتونه پرې لولي، کتاب او حکمت ورښيي او روزنه ئې کوي، بې شکه چي همدا ته باحکمته عزتمن يې.

قرآن د ابراهیم علیه السلام په قصې کې زموږ په وړاندې د پیغمبرانو علیهم السلام د شخصیت او مأموریت په اړه یو ډېر دقیق او جامع تصویر ږدي، هلته چې وایي: الله تعالی اراده کړې وه چې په مکه کې د توحید بنسټ کېښودی شي او دلته کعبه او د موحدینو د راغونډېدو مرکز جوړ شي، غوښتل ئې دا مرکز د یوه ستر موحد او بت ماتوونکي په مبارك لاس بناء شي، ابراهیم او د ده سرتېرې زوی اسمعیل علیهما السلام ئې د دې ستر کار لپاره غوره کړل، هغه په عراق کې د یوه بت لمانځونکي او بت جوړوونکي په کور کې پیدا شو، د نمرود تر سلطې لاندې یوې شرك وهلې جاهلې ټولنې کې، هلته چې خلك هم د ژوندي نمرود په وړاندې سر ټیټوي او هم له مرگ وروسته د ده مجسمې ته!! خو ابراهیم علیه السلام ته نه د مړه بت لمانځل د منلو وو او نه د ظالم نمرود واکمنې، پلار او قوم ته ئې ویل: دا ستاسو د لاس او ذهن مولود جعلي خدایان نه منم، نه دا بتان، نه دا لمر، سپوږمۍ او ستوري او نه هیڅ فنا کېدونکی په خدایئ منم، الله همغه دئ چې هر څه ئې پیدا کړي. خو کله چې ئې ولیدل دا خلك یوازې د ده په بلنې او استدلال له شرك لاس نه اخلې، پرېکړه ئې وکړه چې دا بتان رانسکور کړي، پوهېدو چې هم د نمرود ظالمانه واکمنې د دغو بتانو په بنسټ ولاړه ده او هم د ولس د مظلومیت او په خوارۍ، ذلت او جهل کې د ژوند کولو عامل ئې همدا بتان او د هغوی لمانځنه. نه ئې د ولس د انتقام پروا وکړه او نه د نمرود له غضب وېره، یوازې وو، له یوه تبر پرته ئې بل څه نه شو برابرولی، خو دغو اندېښنو د ده اراده او عزم نه شو بدلولی، تبر په لاس د بتانو خونې ته ورننوت، ټول ئې یو په بل پسې رانسکور کړل او تبر ئې د ستر بت په غاړه کې ځوړند کړ او له خونې په ډاډه زړه ووت. خلك له مېلې راوگرځېدل، هلته ئې نمرود لمانځلی وو، کور ته تر تلو مخکې باید د نمرود بتان هم ولمانځي، خو دلته ئې ناڅاپه ټول بتان مات، نسکور او نړېدلي وموندل او ستر بت مزید سپك شوی، تبر ئې په غاړه کې، د نورو د ماتولو اتهام ورته متوجه، خو نه اتهام ردولی شي او نه اصلي ماتوونکی

ښودلی شي، دا همغه خدایان وو چې خلکو له دوی د خپلو حاجتونو ترسره کېدو او د ستونزو د حل طمع کوله او دا ورته تلقین شوې وه چې د ستونزو د حل مرجع دغه ده، ستاسو د مشکلاتو عامل نظام او واکمنان ئې او د دوی تصرفات نه دي، مشکلات مو له دې راولاړ شوي چې دا خدایان درنه ناراضه دي. او دا هغه څه دي چې هر نمرودي نظام تر هر څه مخکې او زیات ورته ضرورت لري. له ابراهیم پرته بل څوك په دې کار نه شو تورن کېدی، هغه ئې راحاضر کړ، پوښتنه ئې وکړه: دا کار تا کړی؟ ابراهیم علیه السلام د داسې غونډې، همدې حالت او د بت لمانځونکو داسې یوې پوښتنې ته منتظر وو، وئې ویل: تېر خو د ستر بت په غاړه کې دئ، له هغه پوښتنه وکړئ که خبرې کولی شي!! ځواب ئې ورکړ: ابراهیمه! ته خو پوهېږې چې دوی خبرې نه شي کولی! هغه همدا ځواب غوښتو، وئې ویل: نو دا تاسو څنگه د هغه څه عبادت کوئ چې نه خبرې کولی شي، نه له ځانه ضرر دفع کولی شي، نه بل ته گټه رسولی شي، افسوس پر تاسو او ستاسو پردغو معبودانو!! د قوم او د دوی د سالار نمرود پرېکړه معلومه وه، زندان، په اور سوزول، داسې سزا چې د نورو لپاره عبرت شي. خو ابراهیم علیه السلام د نمرود له لوري د ده د مرگ او سوزولو د پرېکړې د اورېدو په ځواب کې وویل: د مرگ ژوند پرېکړه هغه ذات کوي چې دا لمر له مشرقه راپورته کوي او په مغرب کې ئې پرې باسي، اور ته د لوېدو په وخت کې ئې ویل: الله راته کافي دئ، هماغه تر ټولو غوره وکیل او نصیر. الله تعالی دا ابراهیم د کعبې د جوړولو لپاره له سوزېدو وژغورو، له عراق ئې شام ته او بیا له هغه ځایه مکې ته راووست، دلته ئې په بې اوبو او وحشتناك بیابان کې د هاجر او ئې خور اسمعیل یوازې پرېښودو امر ورته وکړ، په دې ستر امتحان کې هم بریالی شو، کله چې اسمعیل ځوانۍ ته ورسېد، په خوب کې ئې داسې څه ولیدل چې د اسمعیل د قرباني کولو اشاره ئې ور ته کوله، د ده لپاره همدا اشاره کافي وه، زوی ته ئې دا خبره وکړه، هغه په ځواب کې ورته وویل: پلاره! څه چې درته ویل شوي، هغه

ترسره کړه، ما به صابر او مطیع ومومې، په دې لوی او خطرناك امتحان کې دواړه بریالي شول او اوس نو دوی د هغه ستر کار لپاره جوګه شوي چې د زمکې پر سر د الله مبارك کور، کعبه، د موحدینو قبله د دوی په لاس جوړه شي، دوی چې کله د دیوالونو په اوچتولو لګیا او ډېري ئې یوه د بلې په سر ایښودې، دا وینا ئې په ژبه وه: اې زمونږ ربه! له مونږ ئې قبول کړه، بې شکه چې ته خو ښه پوه اورېدونکی یې. اې زمونږ ربه! مونږ دواړه درته منقاد او تابع وګرځوه او له اولادې مو تا ته یو منقاد امت او مونږ ته زمونږ دیني مناسك راوښیه او توبه مو قبوله کړه، یقیناً چې ته ډېر مهربان توبه قبلوونکی یې. په دوی کې په خپله له دوی داسې پېغمبر مبعوث کړه چې ستا آیتونه پرې لولي، کتاب او حکمت ورښیي او روزنه ئې کوي، بې شکه چې همدا ته باحکمته عزتمن یې.

په هغې وېروونکې بیدیا کې د دوو مهاجرو او له خپل هیواد د شړل شوو په لاس چې کوم کور جوړ شو، دا دئ څلور زره کاله وروسته هم، هر کال تر شلو لکو زیات خلك د هغه طواف کوي، هملته د دوی پر پله ګام ږدي او همغه څه کوي چې دوی دواړو له خپل رب غوښتي وو.

قرآن د بني اسرائیلو او هري هغې مذهبي ډلې غلط تصورات رد کړي چې مذهب او مذهبي مقام موروثي ګڼي او ګمان کوي چې له پلار اولاد ته په میراث رسي او دا طمع لري چې پېغمبرانو او د الله دوستانو ته د انتساب په وجه د الله د پېرزوینو وړ، د امامت وارث او د جنت مستحق دي، دوی ته ویل شوي چې نه مذهب او عقیده داسې شی دئ چې په میراث وړل کېدی شي او نه مذهبي مقام داسې مقام دئ چې له پلاره اولاد ته په میراث رسېدی شي، د الله په دین کې له هر چا سره معامله د ده د عقیدې او عمل له مخې کېږي، له هر چا به د خپلو کړو وړو پوښتنه کېږي، پېغمبرانو ته ځان منسوبول او ځان د دوی د مقام او منزلت وارث ګڼل او له دې لارې د امتیازاتو ترلاسه کول، دا هغه کارونه دي چې د بني

اسرائيلو ټګمارو مذهبي مشرانو کول. دوی ځان د الله د خاصي کورنۍ غړي، د پېغمبرانو ورثه او ځای ناستي ګڼل او ابراهيم عليه السلام ته ئي ځان منسوباوو، الله تعالی د دوی په ځواب کي فرمايي: ابراهيم مشرك نه وو، خپل اولاد ته ئې دا غوښتي وو چي د خلکو د ارشاد او هدايت لپاره ئې امامت او قيادت په برخه شي، خو الله تعالی د ده د غوښتني په ځواب کي ويلی وو: دا مقام د ظالمانو په برخه کېدی نشي، ابراهيم عليه السلام خو کعبه د دې لپاره جوړه کړه چي دا د امن کور وي، د امن وسيله وي، دلته خلك په ډاډ او اطمئنان سره د الله عبادت او ذکر وکولی شي، ده خو دا تمنا کړې وه چي د دې سيمي اوسېدونکي د الله شاکر بندګان وي، تل په دوی کي داسي پېغمبران مبعوث شي چي دوی ته دين وښيي او له ګناهونو ئې وژغوري، ده خو خپل اولاد ته د دې توصيه کړې وه چي د يوه الله عبادت به کوي، د ابراهيم او ستاسو د جد يعقوب عليهما السلام توصيه خو دا وه، تاسو څنګه له خپل شرك، فساد، ظلم، د دين او دينداړانو له دښمنۍ سره سره ځان هغوی ته منسوبوئ؟!!

دا مطلب د قرآن عظيم الشأن په ډېرو ځايونو کي توضيح شوی چي د پيغمبرانو د بعثت مخکي تاسو په داسي ناپوهۍ او جهالت کي وئ چي ترې وتلی نشوئ او د سعادت لار مو نشوی موندلی، حتی پيغمبر عليه السلام ته فرمايي:

وَوَجَدَكَ ضَآلًا فَهَدَىٰ *

آيا ضال (لاروركی) ئې ونه موندې چي هدايت ئې کړې .

چي پيغمبر عليه السلام ته داسي خطاب کېږي، د دې معنی دا ده چي انسان من حيث الانسان وحي ته اړ او محتاج دئ، ځکه نو الله تعالی د انسان د هدايت او لارښووني لپاره وحي رالېږلي او پيغمبر ئې مبعوث کړی.

قرآن عظيم الشان فرمايي چي څوك پر پيغمبر ايمان نه لري، هغه ئې

ځان ته لارښود نه دئ ټاکلی او هغه رڼا ئې نه ده په برخه شوې چي اللّٰه تعالی د پیغمبر په لاس رالېږلي، مثال ئې هغه چا ته ورته دئ چي د ژور سیند د اوبو په تل کي وي، د بحر ځپې ئې پر سر، یوه د بلې د پاسه، او تر ځپو بر پر سیند پرېږي تیارې وربځې، تیارې یوه د بلې د پاسه، هومره تیاره او داسي تك تور محیط او ماحول چي حتی که خپل لاس راوباسي نه ئې شي لیدلی، یعني هغه د کفر په وجه په داسي یوه تیاره محیط کي واقع دئ چي حتی خپل ځان هم نشي پېژندلی، څه دا چي خپل ماحول او محیط درك کړی شي، لکه چي فرمایي:

أَوْ كَظُلُمَٰتٍ فِي بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَغْشَىٰهُ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ سَحَابٌ ظُلُمَٰتُۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَآ أَخْرَجَ يَدَهُۥ لَمْ يَكَدْ يَرَىٰهَا ۗ وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورًا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ * النور:٤٠

او لکه په ژور بحر کي هغه تیارې چي یوه د بلې له پاسه ځپو پوښلی وي، او له پاسه ئې وربځې، تیارې ځیني د ځینو نورو پرسر، که خپل لاس راوباسي نه ئې شي لیدی، او چاته چي اللّٰه کومه رڼا نه وي ورکړې نو هیڅ رڼا به ئې په برخه نشي.

قرآن له پیغمبرانو علیهم السلام او د دوی له رسالت او لارښوونو منکر کافران له مړو سره تشبیه کوي او فرمایي:

أَوَ مَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَٰهُ وَجَعَلْنَا لَهُۥ نُورًا يَمْشِي بِهِۦ فِي ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَٰفِرِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ *

الانعام: ۱۲۲

آیا هغه چي مړ وو، بیا مو راژوندی کړ او داسي رڼا مو ورپه برخه کړه چي په هغې سره په خلکو کي تگ کولی شي، هغه چا ته به ورته وي چي په داسي تیارو کي وي چي ترې وتونکی نه وي، کافرانو ته همداسي هغه څه شایسته شوي چي دوی ئې کوي.

په دې مبارك آيت کې څو ډېرې مهمې او اساسي خبرې په ايجاز او اختصار سره شوې:

- کفر داسې دئ لکه مرگ او ايمان داسې دئ لکه ژوند، کافر د مړي په څېر دئ او مؤمن د ژوندي په څېر.
- څوك چې کافر وو او الله تعالی ايمان ورپه برخه کړ داسې دئ لکه چې مړ وو او الله تعالی راژوندی کړ.
- د الله تعالی لارښود کتاب داسې دئ لکه روڼ څراغ چې په تياره کې انسان ته لار ښيي.
- د دې روڼ څراغ په رڼا کې انسان کولی شي د خلکو په منځ کې د تللو لار ځان ته روښانه کړي، دوست او دښمن، صالح او طالح، مؤمن او منافق، ښه او بد وپېژني، لوړې او ژورې ووينې، خنډونه او گړنگونه ورته جوت شي.
- بې ايمانه انسان په يوې کفري ټولني کې هغه چا ته ورته دئ چې په پرېړو تيارو کې پروت وي او د وتلو ټولې لارې پرې بندې وي.
- دا تياره په حقيقت کې د جهل، شرك او کفر هغه تياره ده چې د ده پر زړه، دماغ او سترگو ئې سيورې غوړولی، د ده معيارونه ئې مختل کړي، د ده احساسات او مشاعر ئې ځپلي، خپل بدې کړني ئې ورته ښايسته کړې.

دا آيتونه موږ ته ښيي چې انسان پيغمبرانو ته اړ او محتاج دئ، الله جل شأنه د ده د اړتيا رفع کولو او د ده د لارښوونې او هدايت لپاره پيغمبران رالېږلي. پيغمبر موږ ته د داسې اسوې او قدوې حيثيت لري چې کتاب د هغه په شخصيت کې عيني تجسم موندلی، يوازې کتاب د انسان د لارښوونې لپاره کافي نه دئ، بايد الهي کتاب د يوه چا په عملي شخصيت کې څرگند شي، ټول مفاهيم او احکام ئې د هغه په شخصيت کې مجسم

شي، د انسان د لارښووني لپاره يوازي دعوت کافي نه دئ بلکې د دعوت ترڅنګ داعي او معلم ته ضرورت شته، همدا وجه ده چې الله تعالی خپل کتاب د پیغمبر په لاس رالیږي.

پيغمبر عليه السلام په مکه مکرمه کې د دعوت په ابتدايي شپو ورځو کې، د دې په ځای چې رسالې او کتابونه ولیکي، شخصيتونه ئې جوړ کړل؛ ځکه چې د دعوت لپاره تر هر څه د مخه داسې داعي په کار دئ چې دا دعوت د هغه په شخصيت کې مجسم شي، کله چې رسول الله صلىالله عليه وسلم دغسې داعيان وروزل او د دعوت چلولو لپاره ئې اجتماع ته وړاندې کړل، ګورئ چې خلك فوځ فوځ د ده خوا ته راتلل او په څنګ کې ئې ودريدل.

قرآن عظيم الشأن په دې اړه فرمايي:

لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِى رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا * الاحزاب:۲۱

يقيناً چې تاسو ته د الله په استازي او پيغمبر کې نېکه بېلګه او اسوه ده. هغه چا ته چې الله او د آخرت ورځې ته اميد ساتي او الله زيات يادوي.

يعني څوك چې غواړي الله ته د هيلې درلودو په خرنګوالي وپوهېږي او هغه عملونه وپېژني چې په وجه ئې انسان د الله د مرستې، رعايت او عنايت طمعه او هيله کولی شي، نو دا دې له پيغمبر زده کړي، څوك چې غواړي وپوهېږي آخرت ته هيله او اميد درلودل يعني څه، او غواړي هغه عملونه وپېژني چې په آخرت کې به ګټه وررسوي او له دې لارې کولی شي د نېك آخرت طمعه ولري نو هغه دې آخرت ته د طمعې او هيلې خرنګوالی له پيغمبره زده کړي او څوك چې غواړي د الله د زيات ذکر په خرنګوالي پوه شي بايد په دې کې د پيغمبر متابعت وکړي، پيغمبر بايد د ده لپاره اسوه او قدوه وي او د هغه په شخصيت کې او د ده د اخلاقو او کړنو په رڼا کې د دې خبرو په حقيقت ځان پوه کړي، د ژوند په ټولو مسائلو کې

باید پیغمبر موږ ته ښېلګه، اسوه او قدوه وي، الله ته د امید وارۍ په څرنګوالي کي، د آخرت په نسبت ایمان درلودلو او د اعمالو د نتائجو په اړه آخرت ته طمعه او هیله ساتلو او د الله د زیات یادولو او ذکر په څرنګوالي کي باید پیغمبر زموږ قدوه او اسوه وي.

همدا رنګه قرآن عظیم الشأن پیغمبر علیه السلام ته خطاب کوي او فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا * وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذۡنِهِۦ وَسِرَاجٗا مُّنِيرٗا * وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَضۡلٗا كَبِيرٗا * وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَدَعۡ أَذَىٰهُمۡ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا * الاحزاب: ٤٥ -٤٨

اې نبي! یقیناً چي ته مو شاهد، زېرى ورکوونکى، انذار ورکوونکى، د الله په حکم د الله لوري ته بلونکى او لکه روڼ څراغ لېږلى یې. او مؤمنانو ته دا زېرى ورکړه چي ستر الهي فضل به ئي په برخه شي، او د کافرانو او منافقینو متابعت مه کوه، ځوروني ئي له پامه وغورځوه، او پر الله توکل وکړه، او الله د وکیل په توګه کافي دئ.

په دې آیتونو کي د پیغمبر علیه السلام څو صفاتو ته اشاره شوې:

- نبي: هغه څوك چي له حقایقو خبر او په خبرو پوه وي.
- رسول: هغه استازى چي له یوه پیغام او رسالت سره لېږل شوى.
- شاهد: هغه څوك چي د یوه مطلب په حقانیت په خپل قول او عمل سره شهادت ورکوي او د نورو لپاره ښېلګه او اسوه وي.
- مبشر: زېرى ورکوونکى.
- نذیر: له بدو پایلو او خطرناکو پېښو او عواقبو وېروونکى.
- داعیاً الی الله: د الله په لوري بلونکى.

- سراجاً منیرا: روڼ او روښانه څراغ.

په دې مبارکو آیتونو کې نه یوازې د پیغمبر علیه السلام ځانګړتیاوې ښودل شوې بلکې د دعوت د بېلو بېلو مراحلو تسلسل ته هم اشاره شوې، په دې توګه:

د پیغمبرانو هر دعوت له داسې خلکو پیل شوی چې لومړی ئې په خپله پوهه او بصیرت په برخه شوی، الله تعالی د وحې له لارې په حقایقو پوه کړي، بیا له الهي پیغام او رسالت سره د خلکو د هدایت او لارښوونې لپاره لېږل شوي، بیا همدغه پیغام او دعوت د دوی او د دوی د پلویانو په عملي شخصیت کې عیني تجسم مومي، له هر یوه د خپل دعوت د ټولو مفاهیمو لپاره ژوندی شاهد او بېلګه جوړ شوی، ګورئ چې دلته په دې صف کې یوازې پوهه او بصیرت کافي نه دئ، بلکې له پوهې وروسته ګڼ شمېر مراحل شته، پیغمبر علیه السلام فرمایي: د علم دوه ډولونه دي: یو ئې هغه چې یوازې په ژبه وي، داسې علم به د قیامت په ورځ د انسان په خلاف حجت ګرځي او بل ئې هغه نافع علم چې د عمل لارښود وي او انسان پرې عمل کوي.

د پیغمبرانو علیهم السلام په لار تلونکي باید د خپلې الهي تګلارې د دقیقې پېژندنې ترڅنګ د الهي پیغام حامل وي، دا پیغام او رسالت باید د دوی په عملي شخصیت کې داسې راڅرګند شي چې هر لیدونکی د دوی په کړنو کې د دې دعوت څرنګوالی او اغېز په خپلو سترګو وګوري. دا ځکه چې پیغمبر علیه السلام د شاهد او ګواه په توګه لېږل شوی، داسې چې د ده عمل د ده د دعوت او رسالت په حقانیت شهادت ورکوي او دا دعوت او عقیده د ده په عملي شخصیت کې په داسې توګه راڅرګندېږي چې هر لیدونکی د دې عقیدې په حقانیت متقاعد کړي.

د پیغمبر بل مهم صفت دا دئ چې هغه د مبشر په توګه لېږل شوی، د مأیوسو او نا امیدو خلکو طرف ته تللی، هغوی ته ئې امیدواري ورکړې

او له یاس او نا امیدۍ ئې ژغورلي، هغوی ته ئې د ایمان په لار کې د روښانه مستقبل او ځلاندي راتلونکې زېرى ورکړی، د پيغمبرانو علیهم السلام په لار تلونکی هر دعوتگر باید تر ټولو د مخه مبشر وي، د یأس او نا امیدۍ مقابله به کوي، هغه دعوتگر چې په خپلې بریا باور نه لري، د خپل رب په رعایت، عنایت او مرستې ئې بشپړ باور نه وي، د خپل دعوت راتلونکې ته هیله من نه وي، مأیوس وي، خپل مخاطب ته د بریا، فتحې، غلبې او روښانه مستقبل زېری نشي ورکولی، هغه یو ناکام داعي دئ، دا ځکه چې له نبوت او رسالت وروسته د هر پيغمبر لومړی صفت مبشر دئ، هغه په خپله هیله من دئ، داسې چې تر سختو په سخت حالت کې نه مأیوسه کېږي او هغه خپل امت ته هم د روښانه راتلونکې او حتمي بریا او د فتحې زېری ور کوي او د مبشر په توگه د مأیوسو ولسونو طرف ته درومي.

- او هغه نذیر دئ، د ظلم مقابله کوي، د فساد، جهل او شرك مقابله کوي، خلك د فساد، شرك، جهل او ظلم له بدو پایلو وېروي، هغه د منکراتو او مفاسدو په وړاندې چوپ او بې اعتناء نه پاته کېږي، بلکې خلك وېروي، که له یوې خوا مؤمنانو ته د ایمان په خط کې د برې او غوره پایلې زېری ورکوي، له بلې خوا هغه چاته چې له دې لارې منحرف شي او مفسدینو او ظالمانو ته انذار ورکوي او د کفر، ظلم او فساد له بد عاقبت ئې وېروي.

- هغه یو دعوتگر دئ، په خپل قول او عمل سره، بلنه ئې د الله تعالی لورې ته وي، نه د ځان لورې ته، او نه د کوم دنیوي غرض او مقصد لپاره، داسې بلونکی او دعوتگر چې د خپل رب په اذن او حکم او د ده له سننو سره سم خلکو ته بلنه ورکوي، غواړي خلك د الله طرف ته لاړ شي، هغه ته ورنږدې شي، په الهي اخلاقو مزین او سمبال شي.

• هغه په انساني ټولني کي داسي دئ لکه په تیاره کي روڼ او روښانه څراغ، خپله سوزي خو نورو ته رڼا ورکوي، لکه شمع په خپل سر اور وړي چي د نورو ماحول او د ښو مخه روښانه کړي، د نورو لپاره سوزي، د نورو د هدايت او لارښووني لپاره ځان وقفوي، کله چي خلك په تياره کي وي او روڼ مشعل ته اړوي نو دی د روڼ او روښانه څراغ په څېر دوی ته لار ښيي او له تيارو ئي باسي.

له دغو ځرګندونو وروسته د پيغمبر د نورو دندو په اړه فرمايي:

وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَضۡلاً كَبِيرًا * الاحزاب:٤٧

او مؤمنانو ته د دي خبري زېری ورکړه چي د الله له لوري ئي ستر فضل په برخه دئ.

دوی باید ډاډه وي چي الله تعالی به خپل ستر فضل ورپه برخه کړي، پر دښمنانو به فتحه، برلاسي او غلبه ورکړي او خپل تأييد به د دوی په حال شامل کړي.

بيا فرمايي:

وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَدَعۡ أَذَىٰهُمۡ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلاً * الاحزاب:٤٨

د کافرانو او منافقانو اطاعت مه کوه، او اذيت ئي پرېږده، او په الله توکل وکړه چي الله د وکيل په توګه کافي دئ.

يعني له کافرانو او منافقينو ځان لري ساته، پام چي په خپل ژوند کي د دوی کړنلاره غوره نکړي، هدف ته د رسېدو لپاره هغه تدابير غوره نه کړې چي کافران او منافقان ئي غوره کوي، د دوی د اذيت پروا مه کوه، ځان الله تعالی ته وسپاره چي هغه درته کافي دئ.

دا آيتونه موږ ته ښيي چي پيغمبرعليه السلام د خلکو لپاره داسي اسوه او قدوه ده چي بايد په هر څه کي په هغه پسي اقتدا وکړي.

قرآن د پیغمبرانو علیهم السلام له بعثت مخکې د خلکو حالت او د دوی له بعثت وروسته حالت داسې انځور کړی:

كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۚ وَمَا ٱخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۖ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لِمَا ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ مِنَ ٱلْحَقِّ بِإِذْنِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ يَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ *

البقره: ۲۱۳

خلك ټول يو امت او ټولی وو، نو اللّٰه زېری ورکوونکي او انذار ورکوونکي پیغمبران ولېږل او له دوی سره ئي حقيقي كتاب راولېږو ترڅو د خلکو ترمنځ په هغه څه کې پرېکړه وکړي چې دوی په کې اختلاف کړی وو او اختلاف خو له هغو پرته بل چا نه وو کړی چې کتاب ورکړی شوی وو او دا هم په خپلو کې د کینې په وجه او وروسته له هغه چې څرګندي نښې ورته راغلې، نو اللّٰه په خپل حکم سره هغه کسان په مختلف فيه شیانو کې هدایت کړل چې ایمان ئي راوړی وو او اللّٰه خو چې هرڅوك وغواړي د سمې لارې په لوري ئي هدایت کوي.

یعنې خلك د پیغمبرانو له بعثت مخکې یو شانې له حق بې خبره، په اختلافاتو اخته، بې لارې او په ظلم، جهل او فساد کې غرق ول، اللّٰه تعالی د دوی د لارښوونې لپاره داسې پیغمبران راولېږل چې بې لارې انسانان له خپل بد عاقبت ووېروي او ورته ووایې چې ستاسو د دې اوسنې فردي ژوند، اجتماعي او اقتصادي نظام، اخلاقي روابطو او د راکړې ورکړې طریقه بدې پایلې لري، هم په دې دنیا کې او هم په بلې دنیا کې، خو که له دې لاس واخلئ، حق ته غاړه کېږدئ، په اللّٰه او آخرت ایمان راوړئ، د اللّٰه دین ته تسلیم شئ، نو د دنیا او آخرت نېك بختي او سعادت به مو په برخه شي. پیغمبر هم بشیر وي او هم نذیر، د ده د دعوت وارثان به هم بشیر او هم نذیر وي، د بدانو او ظالمانو مخې ته به ودرېږي او د ظلم او فساد له

بدو پایلو به ئې وېروي او مظلومانو ته به د حق لار ښيي او په سمه لار د تلو د نېکو پاېلو زېرى به ورکوي.

همداراز قرآن فرمايي:

وَمَا نُرْسِلُ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۖ فَمَنْ ءَامَنَ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ * الانعام: ٤٨

او موږ پیغمبران نه لېږو مگر زېرى ورکوونکي او وېروونکي، نو چا چې ايمان راوړ او (ځان ئې) اصلاح کړ، نو نه به څه وېره پرې وي او نه به غمجن شي.

دا مبارك آيت موږ ته  ښيي چې:

- د پيغمبرانو عليهم السلام اساسي دندې دا دي چې نېکانو ته په دنيا او آخرت کې د ښې او روښانه راتلونکې زېرى ورکړي او بدان د خپلو گناهونو له بدو پايلو ووېروي، که پيغمبرانو يوازې نېکانو ته د جنت زېرى ورکولى، فضايل ئې بيانولى، په بدانو ئې غرض نه درلودى، دوى ئې د ظلم او فساد له بدو پايلو وېرولى، په دوى ئې نيوکې نه کولى، له ظلم او فساد لاس اخيستو ته ئې نه رابللى، نو هيڅکله به د دوى له مخالفتونو سره نه مخامخ کېدل. د پيغمبرانو عليهم السلام د ورثه وو دنده هم دا ده چې بشير او نذير به وي، چا چې هغه کار وکړ او دا نه، رښتينى وارث نه دئ، ځوك چې د ظالمانو او بد کارانو له مخالفت سره مخامخ نه وو، د پيغمبرانو عليهم السلام په لار روان نه دئ.
- چا چې ايمان راوړ او (ځان ئې) اصلاح کړ، هغه ته نه له هيڅ څه وېره په کار ده او نه په هيڅ څه وير، که د خطرناکو دښمنانو له مخالفتونو سره مخامخ شو وېره دې نه لري او که د الله تعالى په لار کې ئې څه له لاسه ورکړل وير دې پرې نه کوي.

د پيغمبرانو په دعوت او پيغام کې هم اهداف ښودل شوي او هم

اهدافو ته د رسېدلو لاري په ګوته شوي، لکه چي قرآن فرمايي:

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ * الصف:۹

الله هغه ذات دئ چي خپل پيغمبر ئې له هدايت او حق دين سره ولېږو چي په ټولو اديانو ئې غالب کړي که څه هم مشرکان کرکه ولري.

ګورئ چي الله تعالى خپل پيغمبر ته هم حقيقي دين ښودلى او هم ئې تګلاره او د دې دين د پلي کولو او پر ټولو اديانو د غالبولو لار ئې ورښودلې، يعني د پيغمبرانو عليهم السلام په پېغام کي هم اهداف ښودل شوي او هم تګلاره او خط مشي او اهدافو ته د رسېدلو لار، د پيغمبرانو په دعوت کي دا دواړه قضيې توضيح شوي: هم ضوابط، اجتماعي نظام، قوانين، شريعت او احکام ښودل شوي او هم د دې ضوابطو، مقرراتو او اجتماعي نظام او د هغه د خاصو مناسباتو د پلي کولو طريقې او لاري تشريح شوې.

# په پیغمبرانو د ایمان غوښتنې

پر پیغمبرانو د ایمان مهمې او اساسي غوښتنې دا دي:

## توقیر او تعظیم:

پر پیغمبرانو د ایمان لومړۍ غوښتنه دا ده چې مؤمن انسان به د دوی توقیر او تعظیم کوي، هومره تعظیم او توقیر چې له الله تعالی رالاندې تر بل هر چا زیات وي او په دې کې هیڅوک له دوی سره برابر نکړی شي. قرآن عظیم الشأن په دې اړه صحابه وو ته حکم کوي چې پام کوئ کله چې د پیغمبر سره په مجلس کې ناست یاست داسې نه چې ستاسو غږ تر پیغمبر اوچت شي، لکه چې فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرۡفَعُوٓاْ أَصۡوَٰتَكُمۡ فَوۡقَ صَوۡتِ ٱلنَّبِيِّ وَلَا تَجۡهَرُواْ لَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ كَجَهۡرِ بَعۡضِكُمۡ لِبَعۡضٍ أَن تَحۡبَطَ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ *

الحجرات: ۲

اې د ایمان خاوندانو! خپل غږونه د پیغمبر تر غږ مه اوچتوئ او هغه ته په جګ غږ سره خبره مه کوئ، هغسې لکه چې ستاسو ځینې ځینو نورو ته غږ کوئ، داسې نه چې عملونه مو حبط شي حال دا چې نه پوهېږئ.

په دې مبارك آیت کې که له یوې خوا صحابه وو ته ویل شوي چې له پیغمبر علیه السلام سره په مجلس کې به د دې خیال ساتئ چې غږ مو د ده تر غږ لوړ او جګ نشي، په لوړ غږ به له هغه سره خبرې نه کوئ، له لرې به هغه ته په لوړ غږ نعرې نه وهئ، دا د ایمان منافي حرکات دي، په

دي سره د انسان ايمان او نيك عملونه ضايع كېدی شي، كه صحابه په دې مكلف وو چې د پيغمبر عليه السلام د حضور آداب به مراعاتوي، موږ په دې مكلف يو چې كله د رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث اورو بايد ساكت او چوپ وو او په غور او دقت سره ئې واورو، د هغه د نوم په اورېدو سره بايد درود پرې ووايو، د پيغمبر عليه السلام د هري وينا په وړاندې خپله رأيه لرې وغورځوو. د همدې آيت په استناد حتى علماء، مفسرين او محدثين وايي چې دا له ديني اخلاقو دئ چې مسلمانان به له خپلو مشرانو سره په معامله كې د دې خبرې مراعات كوي چې غږ ئې د دوی تر غږ لوړ نشي، شاگرد به له خپل استاد سره، د ډلي مجاهد به له خپل سرخېل سره او ټول مسلمانان به د خپلې ټولني او اجتماع له مشرانو سره همدغه اخلاقي چلند مراعاتوي.

له بلې خوا فرمايي چې پام كوئ ستاسو غږ د پيغمبر عليه السلام تر غږ اوچت نشي، كه نه ستاسو عملونه به حبط شي، په داسې حال كې چې نه به پوهېږئ، يعني په دې كار سره د انسان عملونه حبط او هدر كېږي، د پيغمبر توقير، احترام او تعظيم هومره اهميت لري چې د عدم مراعات په نتيجه كې ئې د انسان عملونه حبط كېږي. چا چې پر پيغمبرانو عليهم السلام استهزاء كړې، الله جل شأنه په شديد عذاب اخته كړي، لكه چې قرآن فرمايي:

وَلَقَد اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِنْ قَبْلِكَ فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ * الرعد:٣٢

او يقيناً چې تر تا مخكې پيغمبرانو باندې استهزاء شوې، نو موږ هغو كسانو ته چې كافران شوي وو مهلت وركړ، بيا مو ونيول، نو وگوره چې دا څنگه عذاب وو.

چا چې پر پيغمبرانو استهزاء كړې، الله جل شأنه مؤاخذه كړي او خپل عذاب ئې پرې نازل كړی. نو وگوره چې دا عقاب او نيونه څنگه وه؟ وگوره

چا چي پر مخكنيو پيغمبرانو استهزاء او تمسخر كړى او د هغوى احترام او توقير ئي نه دى ساتلى، پايله ئي څنګه وه، الله تعالى څنګه تعذيب كړل.

همدا راز فرمايي:

وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُواْ مِنْهُم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ * الانعام:١٠

او يقيناً تر تا په مخكنيو پيغمبرانو استهزاء شوې، نو پر هغو چي ملنډې به ئي پرې وهلې، همغه څه واقع شول چي استهزاء ئې پرې كوله.

يعني د پيغمبرانو عليهم السلام كومي خبري چي دوى د ملنډو وړ ګڼلې او ملنډې ئي پرې وهلې، همغه رښتيا شوې، دوى نه د كمزورو او ضعيفو مؤمنانو بريا او د څواكمنو كافرانو ماتې د منلو وړ خبره ګڼله او نه دا چي د الله تعالى عذاب به پر كافرانو نازلېږي، دواړه خبري رښتيا شوې.

يعني دوى د پيغمبرانو د دې خبرو په نسبت استهزاء كوله چي د خپلو بدو عملونو جزا به ګورئ، او دا چي د كفر، ظلم، فساد او شرك په نتيجه كي به د الله جل شأنه عذاب په دوى نازلېږي، بالآخره همغه عذاب په دوى نازل شو په كوم چي دوى استهزاء كوله.

## ژوره مينه:

په پيغمبرانو باندي د ايمان بله تقاضا دا ده چي انسان به له پيغمبر سره دومره مينه او محبت ساتي چي له الله جل شأنه رالاندي له هيچا او هيڅ څه سره دومره مينه ونه لري، لكه چي قرآن عظيم الشأن فرمايي:

قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأْتِيَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ * التوبه:٢٤

(ورته) ووايه: كه ستاسو پلرونه، ستاسو زامن، ستاسو وروڼه، ستاسو ښځي، ستاسو خپلوان، ستاسو هغه مالونه چي ذخيره كړي مو دي، هغه تجارت چي د بازار د سوړوالي او كساد ئي وېرېږئ او هغه بنګلي چي ورسره مينه ساتئ، (كه دا ټول) تاسو ته له الله، د هغه له پيغمبر او د الله په لاره كي له جهاد غوره وي نو انتظار وكړئ چي الله خپله فيصله صادره كړي، او الله دا فاسق قوم نه هدايت كوي.

د دنيا هر هغه څه چي انسان ورسره مينه ساتي په دې آيت كي راخلاصه شوي، كه تعلقات دي، كه دوستان او خپلوان دي، كه شتمني، مال، دولت، تجارت او بنګلي دي، هر څه چي دي دا ټول يوې خوا ته او الله، د هغه پيغمبر او د الله په لاره كي جهاد بلي خوا ته، كه د چا مينه او محبت له دغو سره وي او هغه ورته تر الله تعالى، د هغه تر پيغمبر او د الله تعالى په لار كي تر جهاد غوره وي، نو دا كسان فاسقان دي او د الهي هدايت دروازې د هغوى پرمخ تړل شوي دي، الله ئي نه هدايتوي او له الهى هدايت محروم دي.

دا د انسان دايمان د تللو لپاره ستر او حساس معيار او ملاك دئ، په دې سره هره لحظه انسان خپل ايمان سنجولى شي، هره لحظه د دې سوال راپيدا كېږي چي آيا ته ايمان ته ترجيح وركوې، الله ته، د هغه پيغمبر ته، او د الله په لاره كي جهاد ته او كه پلار، زامنو، وروڼو، خپلوانو، ښځي، مال، تجارت او بنګلو ته ترجيح وركوې؟ انسان هره شېبه د خپل ايمان په اړه د همدغه معيار او ملاك او تلي په اساس قضاوت كولى شي، د چا چي تر الله د دې شيانو سره محبت زيات وي، هغوى فاسقان دي، د الله له هدايت محروم دي، د هغوى پرمخ د هدايت دروازې تړل شوې دي.

د دغه آيت په استناد پيغمبر عليه السلام فرمايي:

عَنْ أَنَس قَالَ قَالَ النَّبِىَّ صلى الله عليه وسلم: لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ.

ستاسو د یوه ایمان نه قبلیږي تر څو چې زه ورته له خپل پلار، اولاد او تر ټولو خلکو محبوب نه وم.

## كامل اطاعت:

په پیغمبرانو باندې د ایمان بله تقاضا دا ده چې د خپل فردي او اجتماعي ژوند په ټولو برخو کې به د پیغمبر اطاعت کوو، لکه چې قرآن عظیم الشأن فرمايي:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ جَآءُوكَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا *

النساء:٦٤

او هیڅ پیغمبر مو له دې پرته د بل څه لپاره نه دئ لیږلی چې د اللّٰه په حکم سره ئې اطاعت وشي او که دوی هغه وخت درته راغلي وی چې پر خپل ځان ئې ظلم کړی وو، بیا ئې له اللّٰه مغفرت غوښتی وی او پیغمبر هم ورته بخښنه غوښتې وی، نو اللّٰه به ئې مهربان توبه منونکی موندلی وو.

په دې جامع آیت کې څو ډېرې سترې لارښوونې شوې:

- اللّٰه تعالی خپل پیغمبران د دې لپاره رالیږلي چې اطاعت ئې وشي، په دوی پسې اقتداء وشي، لارښود او مقتداء وګڼل شي، دوی یوازې پیغام راوړونکي نه دي، چې خلك به ئې فقط پیغام اوري او بیا به پخپله خوښه عمل کوي، نه، دوی د الهي پیغام عیني تجسم وګڼئ، که غواړئ په دې پوه شئ چې اللّٰه تعالی څنګه انسان خوښوي، نو دا غوره او اللّٰه ته خوښ انسان د پیغمبر په څېره کې وګورئ، که غواړئ پوه شئ چې د اللّٰه په دین عمل کول څنګه وي، نو په دین د عمل کولو رښتیني بېلګه پیغمبر دئ.
- که کله کومه غلطي درنه وشوه، په کومې قضیې کې دې له پورتني

اصل مخالفت وکړ او د پیغمبر اطاعت درنه پاته شو او د هغه په سنت دي عمل ونکړ، نو له الله تعالی بخښنه وغواړه، توبه وکړه. الله مهربان توبه منونکی دئ، توبه او توبه کوونکی خوښوي، نه یوازي دا چي توبه قبلوي او ګناه بخښي؛ بلکي پر توبه کوونکي مزید مهرباني هم کوي.

یعني د پیغمبر د بعثت مقصد دا دئ چي انسان به په ټول ژوند کي او د ژوند په ټولو اړخونو، ابعادو او قضایاوو کي د پیغمبر اطاعت کوي، په هغه پسي به اقتدا کوي، هغه به د ځان لپاره اسوه او قدوه ګڼي او په ټول ژوند کي به د یوه مطیع بنده په توګه د پیغمبرانو په نقش قدم درومي.

دې مطلب ته په بل آیت کي داسي اشاره شوې:

مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ ٱللَّهَ ۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا * النساء:٨٠

څوك چي د پيغمبر اطاعت وکړي، په حقيقت کي ئې د الله اطاعت کړی او څوك چي مخ واړوي نو ته مو پردوی څارونکی نه يې لېږلی.

د پيغمبر اطاعت په حقيقت کي د الله تعالی اطاعت دئ او له ده مخالفت له الله تعالی مخالفت، ځکه پيغمبر هيڅ خبره له ځانه نه کوي، د هغه هره خبره وحي ده، د پيغمبر دنده دا ده چي د الله پيغام خلکو ته ورسوي، هغه د الله استازی دئ، نه د خلکو څارندوی، له ده دا پوښتنه نه کېږي چي ولي ئې خلك له مخالفت منع نه کړی شو، دی په دې نه دئ مکلف شوی، مکلفيت ئې دا دئ چي خلکو ته د الله دين ورسوي.

که د قرآن په آيتونو کي لږ غور وکړئ نو دا به په صراحت سره ومومئ چي کوم پيغمبر کوم قوم ته تللی او هغوی ته ئې بلنه او دعوت ورکړی، قرآن د دوی دعوت په دغو دوو ټکيو کي خلاصه کوي:

فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ * الشعراء: ١٠٨

له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

هر پیغمبر خپل قوم ته همدا دوه خبري کړې: له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

## د استهداء لپاره پیغمبر ته رجوع:

په پیغمبر باندي د ایمان بله تقاضا دا ده چي انسان به د استهداء، لارښووني او هدایت لپاره د پیغمبرانو دعوت ته د وروستۍ او آخري مرجع په توګه رجوع کوي، د ژوندانه د هري پېښي او هري قضیې په اړه به د پیغمبر علیه السلام د ارشاداتو په رڼا کي پرېکړه کوي، مخکي له دې چي د کوم کار په ارتباط پرېکړه وکړي، د کوم اقدام اراده وکړي، د تګ لپاره کوم لورى او استقامت انتخاب کړي، باید وګوري چي پیغمبر علیه السلام د هغه په اړه څه ویلي، کله چي د پیغمبر علیه السلام د ارشاداتو په رڼا کي ورته معلومه شوه چي صحیح لورى کوم دئ، په پوره ډاډ او اطمئنان سره به په همدغه لار درومي، نه به په خپله ښي او کیڼ لوري ته د تلو تکل کوي او نه به د بل چا وینا ته اعتناء کوي، له پیغمبر علیه السلام را لاندي به د بل چا اطاعت په هغه صورت کي کوي چي له هغه اطاعت د الله او د پیغمبر اطاعت وي، د هغه خبره د پیغمبر له خبري سره ورته وي، په هغې مبتني او مستنده وي، له هیچا به مستقل بالرأى اطاعت نه کوي، هیچا ته به د وروستۍ مرجع په توګه رجوع نه کوي، پیغمبر به آخرینه مرجع ګڼي، قرآن همدغسي فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا﴾ النساء: ٥٩

اې مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د پېغمبر او د خپلو چارواکو اطاعت وکړئ، نو که په کوم څه کې مو په خپلو کې شخړه وکړه، نو الله او پېغمبر ته ئې راجع کړئ، که پر الله او د آخرت په ورځ ایمان لرئ، دا ډېر غوره دئ او د پایلې له لحاظه ډېر شایسته.

په دې مبارك آیت کې مسلمانانو ته حکم شوی چې له حکامو او چارواکو سره د اختلاف په صورت کې به شخړه او منازعه الله تعالی او د هغه رسول ته، یعني د الله کتاب او د پیغمبر علیه السلام سنت ته راجع کوي، له دې حکم دا حقیقت په ډاګه معلومېږي چې امیر په مشوره مکلف دئ، د اختلاف په صورت کې ده ته د وروستۍ پرېکړې حق نه دئ ورکړی شوی، وروستۍ فیصله به د قرآن او سنت له مخې کېږي او همدا پر الله او د آخرت پر ورځې د ایمان تقاضاء ګڼل شوې. یعني که د کومې مسئلې په اړه او د کومې قضیې په باب، ستاسو په منځ کې اختلاف راپیدا شو، نود اختلاف دحل وروستۍ مرجع به کتاب الله او سنت رسول الله ګڼئ، پیغمبر ته به رجوع کوئ، ستاسو د استهداء لپاره به وروستئ مرجع له الله تعالی وروسته پیغمبر وي.

... وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ * الحشر:۷

پیغمبر چې تاسو ته څه درکړي هغه واخلئ او له څه ئې چې منع کړئ له هغه ډډه وکړئ او له الله ووېرېږئ. یقیناً چې الله شدید العقاب دی.

همدا راز قرآن فرمایي:

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا * احزاب: ۳٦

او مؤمن نارینه او با ایمانې ښځې ته نه ښایي چې کله الله او د هغه رسول د کوم کار فیصله وکړي بیا دې دوی ته په خپل کار کې څه اختیار وي.

يعني د کوم څه په اړه چي د الله تعالی په کتاب او د پيغمبر عليه السلام په سنت کي وضاحت شوی، دا به وروستۍ پرېکړه ګڼي، ځان ته به دا اختيار نه ورکوي چي بل څه ووايي او بله پرېکړه وکړي، بيا به چار او ناچار، له ځنډ او تأخير پرته مننه او اطاعت کوي.

## حکميت:

په پيغمبرانو باندي د ايمان بله تقاضا دا ده چي انسان به د حکميت لپاره او د خپلو شخړو او منازعاتو د حل و فصل لپاره پيغمبر ته رجوع کوي، هغه به ستا په ټولو قضاياوو او شخړو کي حکم وي، ستا د اختلافاتو د حل و فصل وروستۍ مرجع به هغه څه وي چي پيغمبر راوړي، د هغه سنت، د هغه اسوه او هغه دين چي ده راوړی، لکه چي قرآن عظيم الشأن فرمايي:

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا۟ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا۟ تَسْلِيماً * النساء:٦٥

نو نه، ستا په رب قسم چي تر هغه ئې ايمان نه دئ راوړی چي تا په خپلمنځيو شخړو کي حکم ونه ګرځوي، بيا ستا د پرېکړي په اړه په خپلو زړونو کي تنګوالی ونه مومي او په بشپړه توګه تسليم نه شي.

اې پيغمبره! ترڅو چي تا په خپلو شخړو کي حکم ونه نيسي او بيا ستا په پرېکړي راضي نه شي او په خپلو زړونو کي هيڅ حرج احساس نه کړي او عملاً انقياد ونکړي، مؤمنان نشي بلل کېدی او د ايمان ادعا ئې نشي قبليدی. له دې آيت په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي د ايمان د قبليدو لاندي شرايط دي:

- شخړې او منازعات شريعت ته محول کول.
- د اسلام په هري پرېکړي رضايت.

- او هر حکم ته ئي عملاً غاړه ایښودل.

یعني د حکمیت لپاره پیغمبر او د هغه سنت ته رجوع، په فیصلي ئي قناعت او رضایت او عملاً د هغه په وړاندي انقیاد او اطاعت، دا درې شرطونه به پوره کېږي بیا به الله جل شأنه د چا ایمان قبلوي، له دې پرته ئي د ایمان دعوی اعتبار نه لري.

## هدف او تګلاره د پیغمبر په متابعت کي ټاکل:

په پیغمبرانو باندي د ایمان بله تقاضا دا ده چي موږ به د خپل فردي او اجتماعي ژوند په ټولو اړخونو کي، اهداف او اهدافو ته د رسېدلو تګلاره، د پیغمبر په دعوت او سنت کي لټوو، له خپلي خوا او په خپله خوښه به نه اهداف ټاکو او نه اهدافو ته د رسېدلو تګلاري او پالېسي، بلکي د دواړو په اړه به د پیغمبر علیه السلام سنت او لارښوونو ته رجوع کوو.

ځیني کسان داسي دي چي که اهداف له دین اخلي، نو هدف ته د رسېدو طریقه او تګلاره په خپله خوښه ټاکي، ګمان کوي چي په دې برخه کي انسان ته کاملاً آزادي ورکړی شوې او په څه قید او شرط ملزم او مکلف نه دئ، کولی شي په خپلو خاصو ظروفو او شرائطو کي څنګه چي ئي زړه غواړي عمل وکړي او د خپل تشخیص او درك په رڼا کي چي څه کول غواړي هغه وکړي او چي کومه تګلاره غوره ګڼي اختیار ئي کړي، هر څه کول ځان ته جائز ګڼي، حال دا چي مسلمان مکلف دئ د شرعي او نېکو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره نېکي او شرعي وسیلي اختیار کړي، نه ناجائزې وسیلي او هر هغه څه چي د ده زړه ئي غواړي، قرآن فرمایي:

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ * الصف: ۹

الله هغه ذات دئ چي خپل پيغمبر ئې له هدايت او حق دين سره ولېږو، چي پر ټولو اديانو ئې غالب کړي، که څه هم مشرکان کرکه ولري.

يعني د پيغمبر په لاس لېږل شوی لارښود حقيقي دين نه له نورو اديانو سره د روغي جوړي لپاره راغلی او نه د دې لپاره چي دنيا له نورو اديانو سره ووېشي، چي په يوه برخه ئې دا دين حاکم وي او په نورو برخو کي نور اديان، د دې لپاره هم نه دئ راغلی چي د انسان ژوند له نورو اديانو سره ووېشي چي د ژوند په ځينو اړخونو دا دين حاکم وي او په نورو ابعادو کي ئې نور اديان، بلکي دا دين راغلی چي پر ټولو نورو اديانو غالب شي، که څه هم مشرك عناصر له دې کرکه ولري، مشرك عناصر يا هغه دي چي اديان سره خلطوي، څه برخه له يوه دين اخلي او څه له بل نه، اهداف په دين کي لټوي خو تګلاره په خپله خوښه او د خپل ذهن او تصور مطابق ټاکي، او يا هغه چي په الوهيت او ربوبيت کي له الله جل شانه سره بل خوك شريکوي، که څه هم دا مشرکين له دې کرکه لري چي د الله دين دي پر ټولو اديانو غالب شي، پر ټولي نړۍ او د ژوند پر ټولو برخو دي يوازي دا دين حاکم وي، خو د الله جل شأنه فيصله دا ده چي دا دين به په ټوله زمکه او په ټولو اديانو غالبوي. دې مطلب ته په بل ځای کي هم اشاره شوې:

هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا * الفتح:٢٨

الله هغه ذات دئ چي خپل پيغمبر ئې له هدايت او حق دين سره لېږلی چي پر ټولو اديانو ئې غالب کړي. او الله د شاهد په توګه کافي دئ.

يعني الله تعالی په دې خبري شهادت ورکوي چي د خپل پيغمبر په لاس لېږلی دين ئې د غلبې او حاکميت لپاره لېږلی، نه له نورو اديانو سره د روغي جوړي لپاره.

د پيغمبرانو عليهم السلام د حقانيت د اثبات لپاره دا خبره کافي ده

چې له آدم عليه السلام تر محمد عليه السلام پورې په زرگونو پيغمبران، کله يو له بل سره نږدې او کله ډېر سره لرې، هم د زماني له پلوه او هم د ټاټوبي او مبعث له پلوه، يو د نړۍ په يوه گوټ کې او بل ئې په بل گوټ کې، يو په يوې پېړۍ کې او بل ئې په بلې کې مبعوث شوی، ژبې ئې هم سره بېلې؛ خو د ټولو پيغام سره ورته، ټولو د ظالمانو مقابله کړې، مظلومان ئې خوا ته راغونډ شوي، د ټولني صالح وگړو د دوی ملگرتيا کړې او مفسدينو د دوی مخالفت ته ملا تړلې، ټولو خپلو خپلو مخاطبينو ته څو اساسي خبرې کړې:

- د الله تعالی عبادت وکړئ چې له ده پرته بل معبود نشته.
- قيامت راتلونکی دئ، حساب و کتاب په مخکې لرئ، د خپلو کړو وړو سزا به حتماً گورئ.
- د پيغمبر اطاعت وکړئ چې الله تعالی ته او دنيوي او اخروي سعادت ته د رسېدو لار همدا ده.
- هر بد کار گناه ده، هر هغه څه درباندې حرام دي چې تا ته يا بل ته تاوان رسوي.
- له گناه او حرام ځان وساتئ، پر خپل جائز حق قناعت وکړئ او د بل پر حق له تېرې ډډه وکړئ.

د دوی د پيغام، تگلارې او شعارونو ورته والی ښيي چې د ټولو د الهام منبع او مرجع يوه ده، له دوی سره د ټولني د صالح وگړو ملگرتيا او د ظالمانو، مجرمينو، جنايتکارانو او مفسدينو دښمني او مخالفت ښيي چې د الله تعالی له لورې او د انسان د ژغورني لپاره لېږل شوي. د پيغمبرانو عليهم السلام په اړه له دې پرته بل څه ويل او بله عقيده درلودل؛ د انصاف، عدل او عقل خلاف او ظالمانه قضاوت او حکم دئ.

سُبْحَانَكَ اللّٰهمَّ وَبِحَمْدِكَ أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ